# يُدْنَى الْمُؤْمِنُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنْ رَبِّهِ عَزَّ وَجَلَّ، حَتَّى يَضَعَ عَلَيْهِ كَنَفَهُ، فَيُقَرِّرُهُ بِذُنُوبِهِ

له صفوان بن محرز رضي الله عنه څخه روايت دی وايې چې يو سړي ابن عمر رضی الله عنهما ته وويل: تا له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه د پټ ملاقات (مناجات) په اړه څه اوريدلي دي چې هغه به وييل؟» هغه وويل: ما ترې اوريدلي چې ويل يې: «يُدْنَى الْمُؤْمِنُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنْ رَبِّهِ عَزَّ وَجَلَّ، حَتَّى يَضَعَ عَلَيْهِ كَنَفَهُ، فَيُقَرِّرُهُ بِذُنُوبِهِ، فَيَقُولُ: هَلْ تَعْرِفُ؟ فَيَقُولُ: أَيْ رَبِّ أَعْرِفُ، قَالَ: فَإِنِّي قَدْ سَتَرْتُهَا عَلَيْكَ فِي الدُّنْيَا، وَإِنِّي أَغْفِرُهَا لَكَ الْيَوْمَ، فَيُعْطَى صَحِيفَةَ حَسَنَاتِهِ، وَأَمَّا الْكُفَّارُ وَالْمُنَافِقُونَ، فَيُنَادَى بِهِمْ عَلَى رُؤُوسِ الْخَلَائِقِ هَؤُلَاءِ الَّذِينَ كَذَبُوا عَلَى اللهِ». «مؤمن به د قيامت په ورځ خپل رب ته ورنږدې کړای شي، تر دې چې خپله پرده به پرې واچوي، نو په خپلو ګناهونو به يې قانع کړي، وبه وايې:آيا ته (دا ګناهونه)پيژنې؟ هغه به ووايي: هو ربه پيژنم يې، وايې: هغه به وفرمايي: ما درباندې په دنيا کې پرده اچولې وه، او نن ورځ يې درته بخښم، نو د نيکيو عملنامه به يې ورکړی شي، او کوم چې کفار او منافقان دي، نو د مخلوقات په وړاندې به پرې غږ وشي چې دا هغه خلک دي چې پر خپل رب يې دروغ ويلي دي«.

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم د قيامت په ورځ له خپل مومن بنده سره د الله تعالی د پټ ملاقات په اړه فرمايي: د قيامت په ورځ به مؤمن خپل رب ته ورنږدې کړای شي، هغه به پرې خپله پرده واچوي او د محشر له خلکو به يې پټ کړي تر څو يې له هغه پرته بل څوک په راز پوه نه شي، نو ورته به ووايي: آيا فلان او فلان ګناه پيژنې، نو پر هغو ګناهونو به يې قانع کړي چې د ده او د رب تر منځه يې دي. هغه به ووايي: هو اې رب . تر دې چې مسلمان ووېرېږي، نو الله پاک به ورته ووايي: ما درباندې په دنيا کې پرده اچولې وه او زه يې نن درته بخښم، نو د نېکيو عملنامه به يې ورکړل شي. او کوم چا کافران او منافقان دي، نو د خلکو په حضور کې به پرې غږ وشي چې: همدا هغه کسان دي چې پر خپل رب يې دروغ تړلي وو، واورئ پر ظالمانو دې لعنت د الله وي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/4242

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee